SHARIAT WEEKLY

شریعت

اوونیزه

په اوونۍ کې یو ځل خپرېږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

دریم کال اوه دیرشمه ګڼه پرله پسې (۱۳۷) یکشنبه د۱٤۱۹هق کال دصفرالمظفر (۲۰)د۱۳۷۷ هـ ش کال د غبرګولي دمیاشتې (۲٤) د۱۹۹۸میلادي کال جون (۱٤)

سیلاب شدیدي در منطقه تورخم ولایت ننګرهار سرازیر شد

رقم خسارات ناشي از این سیلاب به میلون ها دالر میرسد

سیلاب شدیدیکه از اثر ریزش باران و ژاله در مناطق تورخم ولایت ننګرهار سرازیر شد علاوه بر تلفات جاني خسارات هنګفت مالي به مردم مناطق مذکوره وارد نموده و مردم آسیب دیده این مناطق به کمک هاي عاجل بشري ضرورت دارد.

آژانس اطلاعاتي باختر ازتورخم ګزارش میدهد : از اثر سرازیر شدن سیلابهاي شدید سه تن از هموطنان ما مفقود الاثر بوده شش باب هوټل کاملاً خسارمند و ساحه وسیعي زمین زراعتي از بین رفته تاست .

علاوه از تلفات جاني و خسارات فراوان مالي پنج عراده موټر داتسن ، سه عراده موټر فلاینکوچ ، چار عراده موټر کرونا، یک عراده موټر داینا یک عراده موټر میني بس، یک عراده ګاز شصت و شش ، پانزده کانتینر رادیو، ده کانتینر تلویزیون، ٥٥ کانتینر پرزه جات و سامان الات وسایط ده هزار و دو صد حلقه تایر عراده جات، ۷٥ راس حیوانات و دو هزارو بیست کراچي دستي از بین رفته است که رقم این خسارات به ملیونها دالر میرسد .

ګروپهاي امداد رساني امارت اسلامی افغانستان مصروف فعالیت در منطقه بوده که تا حال تعداد از اموال و اجناس مردم را ص۰٤،

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي ! ، همدا (عدل) ډیر نږدې دی تقوا(پرهیزګاری) ته .

(سورة المائدة)

مساعدت هاي بشردوستانه جمهوري اسلامي پاکستان به وزارت مهاجرین و شهدا تسلیم داده شد

مقدار یکصد تن برنج پنجاه تن روغن و پنجاه تن بوره مساعدت هاي کشور دوست جمهوري اسلامي پاکستان توسط محترم محمد اصغر افریدي نایب سفیر پاکستان مقیم کابل غرض کمک به مهاجرین و مردم بي بضاعت افغانستان به وزارت مهاجرین و شهدا تسلیم دادهٔ شد.

آژانس اطلاعاتي باختر ګزارش میدهد کمک هاي متذکره با ابراز امتنان از طرف محترم الحاج مولوي عبدالرقیب تخاري سرپرست وزارت مهاجرین و شهدا پذیرفته شد. ص۰٤،

د اطلاعاتو او کلتور وزارت د شعر او ادب د اداري له خوا ادبي غونډه جوړه شوه

د اطلاعاتو او کلتور وزارت د شعر او ادب د اداري په اهتمام ددغي اداري په انګړ کې یوه درنه ادبي غونډه وشوه. غونډه د کلام الله مجید د څو مبارکو آیتونو په تلاوت پیل شوه وروسته د شعر او ادب د څانګې مسؤل محترم داکتر باز محمد ښادمن د دا رنګه غونډو د اهمیت په هکله خبري وکړي په دغه غونډه کې د قدرمن شاعر محترم ملبار کاکړ یوه ښه شعر تر څیړنې او کره کتنې لاندي ونیول شو وریسې یوه پرتمینه مشاعره وشوه چې د هیواد نامتو شاعرانو هر یو محترم نصرالله حافظ، محترم اسد الله حنیفي، محترم عبدالحنان همت، محترم داکتر محمد څلورم مخ

قوماندانان یك موضع مهم خط اول غوربند به مجاهدین اردوي اسلامي تسلیم شدند

چندین میل اسلحه ثقیل و خفیف را تسلیم اردوي امارت اسلامي افغانستان نمودند

قوماندانان یك موضع مهم خط اول ولسوالي غوربند ولایت پروان به رهبري عبدالکریم به مجاهدین اردوي اسلامي تسلیم ګردیدند.

خبر هاي رسیده به آژانس باختر حاکیست در جمله تسلیم شده ګان قوماندان پاینده، ګل حسین، عبدالحسین و پانزده تن افراد مسلح شامل بوده و یك میل بي ایم یك ، یك میل دهشکه ، یك میل راکت آر.پي.جي ، یك میل ماشیندار و یکپایه مخابره را به مسوولین خط اول در غوربند تسلیم نموده تعهد سپرده اند که دیګر هیچګاه فریب نخورده با آن تن توان علیه دشمنان دین و میهن مبارزه نمایند و با قاطعیت و پایمردي در کنار امارت اسلامي شان قرار میګیرند.

در خبر علاوه ګردیده است که نیرو هاي اردوي اسلامي مستقر در آنجا با مورال عالي رزمي و با ایمان کامل به نصرت الهي از دست آورد ها و ارزش هاي امارت اسلامي افغانستان دفاع نموده همچنان اختلافات ذات البیني ملیشه ها روز بروز بیشتر شده و افراد آنها به اثر پي بردن به حقانیت امارت اسلامي به ص۰٤،

د ښکوکو مطبعه بیا ودانه او پرانستل شوه

د ښکوکو مطبعه په دې وروستیو وختو کې بیا جوړه او د یوې غونډې په ترڅ کې پرانستل شوه .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ چې په هغې غونډه کې چې له همدې امله جوړه شوې وه له هغه وروسته چې د کلام الله مجید څو ایتونه ولوستل شول د ښکوکو د مطبعې رئیس محترم مولوي اختر محمد ددغې مطبعې د تاریخي او اقتصادي اهمیت په باره کې خبرې وکړې او ددغه شان عام المنفعه تاسیساتو د احیا کولو او بیا جوړونې د دواړه کار بې د هیواد د اقتصاد د پیاوړتیا په لاره کې یو ارزښتناك ګام وباله .

وروسته د مالي وزارت معین محترم مولوي نجیب الله حقاني د څلورم مخ

یو غل او جنایتکار ونیول شو

یو غل او جنایتکار د هیلمند ولایت د موسی کلا په ولسوالي کې د امنیتي موظفینو لخوا ونیول شو.

د هلمند له ولایت نه د باختر د اطلاعاتي آژانس د خبریال د خبر له مخې اختر محمد د صاحب خان زوی چې څه موده مخکې یې د څه د پاسه شپېتو ملیونو افغانیو په ارزښت زموږ د هیوادوالو مالونه او مواد د دوی له کورونو نه غلا کړي وو د موسی کلا ولسوالي د امنیتي مسوولینو د هلو ځلو له امله ونیول شو او د عدالت څلورم مخ

ویښي ته له اړو کسانو سره مرسته وشوه

د ګردیز د روحانیه مدرسې درنو طالبانو او د پکتیا ولایت د زرمل ولسوالي مسوولینو په دې وروستیو وختو کې ویښو ته له اړو کسانو سره د مرستې په مقصد خپله دوه ویشت ورځ سي سي وینه د طبي علومو اکاډمي د ویني .. بانك ته ورکړه .

یکمقدار سلاح و مهمات از مربوطات ولسوالي خوشي ولایت لوګر بدست آمد

یکمقدار سلاح و مهمات اخیرا از نزد یکتن از قوماندانان رژیم ګذشته از مربوطات قلعه کرتیل ولسوالي خوشي ولایت لوګر کشف و بدست آمد.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد سلاح و مهمات بدست آمده شامل یك میل توپ هفتادو پنج ملي متري ، یکپایه بي ام یك، هفده فیر مرمي توپ هفتادو پنج ملي ص۰٤،

جکهاي مروقه بدست آمد

به تعداد پنج عدد جکهاي کمپرشني طیاره به ارزش ۱۲۰۰۰ دالر اخیراً از ساحه ناحیه چارم کشف و بدست امده است .

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد : موظفین ریاست انسداد قاچاق ریاست عمومي مبارزه با جرایم جنایي طي یك عملیات اوپراتیفي به تعداد پنج عدد جك هاي کمپرشني طیاره را که ارزش آن مبلغ ۱۲۰۰۰ دالر میباشد و قبلاً توسط عناصر شر و فساد از دیپو هاي مربط کشیده شده و بسرقت برده شده بود از ساحه ناحیه چارم کشف و بدست آورده اند . جك هاي متذکره به قرار ګاه ریاست عمومي مبارزه با جرایم جنایي انتقال و قضیه تحت بررسي قرار دارد.

سنګ تهداب یك باب مسجد جامع در ولسوالي سپري ولایت خوست ګذاشته شد

سنګ تهداب مسجد جامع قریه غارمي ولسوالي سپري ولایت خوست اخیراً طي مراسمي توسط ولسوال آنجا ګذاشته شد.

طبق ګزارش خبرنګار اژانس اطلاعاتي باختر از شهر خوست مسجد مذکور که در ساحه یك جریب زمین بمصرف اهالي آنجا اعمار میګردد ګنجایش سه صد نفر نمازګزار را در یك وقت دارد.

د لوړي په اور کي یوه مور او څلور ماشومان وسوځېدل

د لوږي او نیستي له کبله یوي ښځي ځان او خپلو څلورو ماشومانو ته اور ولګاوه

خواره مور او د هغې څلور د زړه ټوټې د اور په لمبو کي سکروټې شول

د نوای وقت ورځپاڼي په حواله خبر ورکړ شویدي چې د پاکستان د هریپور په سیمې کې دا پېښه هغه مهال پېښه شوه چې د کور مشر نور محمد له یوه میاشتې را په دېخوا په مزدوري پیسي له کوره وتلی وه د نور محمد میرمني چې د لوږي له کبله د خپلو ماشومانو چیغو او نارو یې اعصاب خراب کړي و د شپې په تیاره کي په خپل کټ څلورم مخ

د ۳۹۹٦ پونډه وزن لرونکي د نړۍ تر ټولو چاغ سړي

بستر سایمکس له خپل دومره درانه وزن سره هم خوښ او خوشحاله دي

د امریکا د متحده ایالاتو د تکزاس د ایالت اوسېدونکی سایمکس د نړۍ تر ټولو چاغ سړي ټاکل شوي دي بستر سایمکس ۳۹۹٦ پونډه (۱۵۹۸.٤۱ کیلو ګرامه) وزن لري.

په خبر کي ویل شویدي چې د بسترسایمکس وزن له تېر نه دوه کاله وړاندي د ۲۱۲ پونډو نه ډېر نه و خو د دي لپاره چې ده د خپل وزن د زیاتوالي د مخنیوي کوښښ ونه کړ او د خپلي خوښي او د نفس له غوښتني سره سم خوراك ته یې دوام ورکړ نو په لږ وخت کې یې د وزن زیاتوالي بریښنا یې ډوله پر مخنګ وکړ .

بستر وایي چي : له دي څلورم مخ

دوصد و پنجاه نوع ګندم غرض تحقیقات زراعتي تحت آزمایش قرار ګرفته است

دوصدو پنجاه نوع ګندم غرض تحقیقات زراعتي در فارم تحقیقاتي بادام باغ وزارت زراعت تحت آزمایش قرار ګرفته است .

اژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد : ګندم متذکره که غرض تحقیقات و تکثیر در فارم هاي زراعتي اخیراً توسط انستیتوت تحقیقات وزارت زراعت در فارم تحقیقاتي بادام باغ زرع ګردیده است ، در حالیکه هیأت رهبري وزارت زراعت حاضر بودند محترم ملا عبداللطیف منصور سرپرست وزارت زراعت از بخش ص۰٤،

د بالاحصار د اوبو رسولو پروژه بیا فعاله شوه

د بالاحصار د اوبو رسولو پروژه بیا احیا او په دې وروستیو وختو کي فعاله شوه .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ چې د بالا حصار د اوبو رسولو پروژه چې د جګړو له امله له فعالیت نه لویدلې وه په دې وروستیو وختو کي د دفاع وزارت د کارګرانو د هلو ځلو او د څلورم مخ

مدرسه احیاء العلوم ولسوالي غوربند ولایت پروان افتتاح ګردید

اخیراً یك باب مدرسه بنام احیاء العلوم در ولسوالي غوربند ولایت پروان ضمن مراسم افتتاح ګردید.

اژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد : در افتتاح مدرسه متذکره که به همکاري فرقه صفر ٥٥ وزارت دفاع اعمار ګردیده محترم ملا عزیز الله مظلوم سرپرست فرقه (۰٥٥) مقیم غوربند نیز حاضر بود محفلي با تلاوت ایات چند از قرآن عظیم الشان آغاز و بعداً محترم مولوي عبدالغیاث به نماینده ګي از ص۰٤،

یك افسر هندي از ترس مجاهدین کشمیري خود کشي کرد

اسلام آباد : به اساس ګزارشهاي داده شده یك دګرمن هندي از ترس مجاهدین کشمیري انتحار نموده است .

دګرمن این سلانیا به اثر رفتار شدید او دست به انتحار زد روزنامه هندوستان تایمز به حواله یك منبع وزارت دفاع هند ګفته است که دګرمن سلانیا از ګذشته ص۰٤،

سرمقاله

د لوی خدای (ج) په نامه

اوس به د عربي هیوادونو اوښکي څوك وربا کي کړي؟

په پیښور کي خپرېدونکي «سهار» ورځپاڼي د ۱۹۹۸م د جون ۱۱ مې په ګڼه کې د (اف پي) په حواله لیکلي دي چې :« عربي هیوادونو د اسرائیلو ذروي پروګرامونه د منځني ختیځ لپاره لوي خطر ګڼلي او ویلي یې دي چې: عربي هیوادونه او ملګري ملتونه قصداً د اسرائیلو د استکباري مقصدونو ملاتړ کوي، مصر، عربي متحده امارتونو او بحرین د اسرائیلو په ذروي پروګرامونو انتقاد کړي دي د مصر سفیر د ملګرو ملتونو د امنیت شوري ته ویلي دي چې د ملګرو ملتونو د امنیت شوري عرب هیوادونه خپه کړي دي ...»

زموږ زړونه د مسلماني له کبله د نورو مسلمانانو په ویره او تشویش درد کوي او په خوابدي یې خوابدي کیږو، مګر له عربي هیوادونو څخه نور مسلمانان په دي خبره ګیله من دي چې ډېري پیسي دوي لري، ډېري ځمکي زیرمي دوي لري او د هر راز بډایني خاوندان دي نو بیایي ولي په دښمن باندي اعتماد کړي دي؟ ولي یې په سیمه کي پوځي توازن ساتلو ته لا په لومړي سر کي پام نه کاوه ؟ ولي د غرب او ملګرو ملتونو په تمه او د امریکا په واو ېته کرار پراته دي، د خپلي ځمکي او خپلواکي د ساتني غم یې نه دي خوړلي ولي یې د دښمن رحم او کرم(!!) ته سترګي نیولي دي ؟ ولي یې خپل مسلمان او مجاهد قوتونه د دښمن په وینا و ځپل او لا ځپي یې ؟ په داسي حال کي چې اسرائیل له پیل نه په ذروي

دوهم مخ

شريعت

دتأسيس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د ليکوال هيئت ترنظر لاندې
مسؤول مدير : الحاج مولوی عبد الرحمن احمد «هوتک»
مرستيال : ملا أسد الله «حنيفي»
ديوي ګڼي بيه : په هيواد کي (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری
پوست بکس : (٤٧١) تيلفون: ۲۰۰۷۵
په پيښور کي : د طالبانو نمايندګي تيلفون: ۸٤٤۳۳۱-۸۱۸۱۵۷-۸۱۵٦۲۷
جاري حساب : $\frac{٤۰۳۸٥}{٧}$ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : دولتي مطبعه

د سرمقالي پاتي برخه

پروګرام کار کوي، غرب او امريکا بي دريغه مرستي ورسره کوي او دوي په زړو سترګو ورته ګوري، دوي بي ويني چي اسرائيل د ملګرو ملتونو پريکړي د توت پاڼي بولي، القدس شريف د مسلمانانو لومړي قبله د ځان ملك ګڼي ، په ځمکو کي بي يهودانو ته کوروونه جوړوي، عربان ورنه شړي، له فلسطينيانو سره هغه څه کوي چي تري بي ويني د اردن د سين غاړه، سره له دي چي ژمني بي هم کړي دي نه پرېږدي د سوريي د ګولان غونډي نه پرېږدي، مصر د سينا سيمه د رسميت پيژندلو په بدل کي ورنه خلاصه کړه او ... مګر له دي ټولو خبرو سره سره لا دوي د بورينګ غونډي په دي تمه دي چي يا به يي دوستان کړو، يا به يي امريکا سمي لاري ته راولي يا به يي ملګري ملتونه په سمه لاره برابر کړي او ... !

دا ټولي پوچي او بي مفهومه تمي او د خپل ځان غولوني دي امريکايي نه بوازي سمي لاري ته نه سموي بلکي په شايي ټپوي او د ذروي وسلو مالي او تخنيکي مرستي ورسره کوي او په سياسي ډګر کي يي حمايه کوي، که له لومړي سرنه مسلمانو او عربي هيوادونو د خپلي بقا ، ازادي او ځمکني بشپړتيا لپاره له دښمن سره پوځي توله او توازن ساتنه په پام کي نيولي واي نو نن به يي لکه پاکستان په نره دښمن ته په پټه خوله غابش ماتوونکي ځواب ويلي ؤ او دښمن به يي هك حيران کړي ؤ !

اوس يي چي په شلګونو کاله ځان غولولي دي او له دښمن نه د خطر احساس کوي، غرب ته ګيلي کوي او ملګرو ملتونو ته ژاړي نو څوك به يي اوښکي ورپاکي کړي ؟

هيڅوك يي درنځ درمل کيږي نه، اوس دوي د ځان د بقا او خپلواکي چانس لهړيني نر ځکه يو او بل ته ګيلي او زاري کوي، دغه ويره او تشويش يي په ځاي دي، که ددي مسلمانانو حال همداسي وي نو يوه ورځ به داسي راځي چي د سيمي هر څه به د صهيونيزم په ذريعه د امريکا په واك کي وي - لا سمح الله تعالي - !

دا ځکه چي کفري نړۍ د ځمکي په مخ داسي اسلامي هيوادونه غواړي چي د دوي خولي ته ګوري او د دوي لاس لاندي وي، هيڅکله داسي اسلامي هيوادونه نه شي زغملاي چي هغه خپلواکه، او په خپلو پښو ولاړ وي؛

له دي امله يي د ترکيي حکومت ته قومانده ورکړه چي د اسلامي شعايرو نښي نښاني يو مخ له منځه يوسي، وروسي يي ازبکستان ته قومانده ورکړه چي جوماتونه قلف ، اذانونه بند او مسلمانان بنديان کړي انا لله و انا ... ؛

سره له دي چي لا مذهبه (سيکولر) حکومتونه د چا په مذهبي چاروکي غرض نه کوي او سره له دي چي د اسرائيلو د ذروي پروګرام په پياوړي کولو او تاييد برسيره يي يو کفري هيواد (هند) ته هم په پټه او ښکاره ذروي ځواك تيار کړاو په اتومي چاودنه يې د شونډو په سر ملامتي ورباندي وويله مګر کله چي پاکستان د خي چاودنه وکړه په يوه اواز د ټولو ملامتيو بمبارد ورباندي پيل او د اقتصادي بنديزونو بي شميره پټکي يي ورباندي وکړي ځکه چي پاکستان اسلامي هيواد دي او د اسلامي نظام نوم اخلي؛

ددغو ثابتو حقايقو او واقعيتونو په پام کي نيولو سره اوس د اسلامي نړي او منځني ختيز د هيوادونو خپله خوښه: که د (سوي خوب) ته دوام ورکوي، د دښمن رحم او کرم ته سترګي نيسي، خپلي اقتصادي زيرمي غرب ته ليږدوي او د ملګرو ملتونو د لوړي ماڼي سيوري ته غرمه تيروي هم خوښه يي، او که د خپلي بقا ، خپلواکي او ځمکني بشپړتيا په لټه کي راپورته کيږي او خپله اقتصادي بډاينه په دغه لاره کي لګوي او د پاکستان غوندي - چي په ووړي نسل يي ځان له سياله سره برابر کړ - دښمن ته په پټه خوله قانع کوونکي ځواب ورکوي هم خوښه يي.

ګرنيايد بګوش رغبت کس - بر رسولان بالغ باشد و بس

د حافظی کمزوری که ...

له مخدره موادو سره د مبارزي له پاره د ملګرو ملتونو په دري ورځني غونډه کي د ښاغلي ګوهر په وينا را پرځيدلي جمهور رئيس برهان الدين رباني پخپله وينا کي وويل : طالبان د خپل جنګي ماشين د چلولو له پاره د کوکنارو له ګټي استفاده کوي خو رباني دا ونه ويل چي دي د خپل جنګي ماشين د چلولو له پاره له څه شي استفاده کوي ؟

کـه کوم خبريال له ښاغلي رباني دا پوښتنه کړي واي چي جناب بيا نو تاسي خپل جنګي ماشين ته ډيزل له کومه کوي ښايي ده ورته ويلي واي چي موږ د پنجشير او بدخشان لاجورد او لالونه اويه کوو او د کابل د بانکونو او ارګ د سرو زرو زيرمي او بهرني پشتوانه مو ټوله له ځان سره را چلولي ده، کـه تاسي خبـر نه ياست دا نو ستاسي غفلت دي که نه نو موږ خپل کار کـړي او د ارګ او بانکونو زيرمي او نور لرغوني آثار مو ښه په بيخ جارو کړي دي.

استاد رباني دا خبره هيره کړي چي تر دا پرونه يي د طالبانو جنګي ماشين د بهرنيو هيوادونو په مرستو چالان او فعال ګاڼه او همېشه يي دا سر ټکوه چي له طالبانو سره دغه او هغه هيـواد مالي مرستي کوي د افغانستان په کورنيو چارو کي لاسوهنه روا نه ده!!!

آخر د نيويارك په هوايي ډګر د جمهوري رياست له ادعا او عنوان سره سره حتي دده لاسي بکسونه د کومي اندېښني له امله په وار وار تلاشي او وکتل شول او د هوايي ډ ګر د امګريشن په وړاندي څومره منتظر کړي شو.

رباني صاحب پخپله وينا کي دا هم ويلي چي افغانستان له مخدره موادو سره د مبارزي ټول تړونونه لاسليك کړي، دده منظور هغه افغانستان دي چي يوازي يي ځان وارث بولي کـه داسي وي نو بيا ځرنګه د مخدره موادو د توليد او قاچاق مخه نشي نيولي که دا وس او توان نلري نو بيا په دغسي غونډو کي دده ګډون او وينا د څه لپاره ده؟ يدي توګه دي خپله د خپلي واکمني ادعا او په غونډه کي ګډون نفي کوي.

رباني صاحب وايي : د تيرو دوولسيزو پېښو داسي حالات راوستي چي د کوکنارو د کښت د زياتوالي باعث او د معاهدو او تړونونو د عملي کولو توان او صلاحيت لري.

رباني صاحب پخپله وينا کي دا هم ويلي چي ملګري ملتونه په افغانستان کي د سولي په راوستو او له مخدره موادو سره د مبارزي په لار کي په اصطلاح له اسلامي دولت سره مالي مرسته او ملاتړ وکړي - رباني صاحب خپله وايي چي د هيـواد په ستره برخه د طالبانو کنترول دي او کوکنار هم ګرځېدلي خو په دغو دوو لسيزو کي څلورنيم کلنه واکمني دده وه چي په دغو دوولسيزو کي تر ټولو بدمرغه او ناکوونکي ثابته شوه .

رباني صاحب دا هم مني او وايي چي د هيواد په ډيره ستره برخه د طالبانو کنترول دي چي په همدغو سيمو کي کوکنار هم زيات کرل کيږي . چي داسي ده نو له استاد نه دا پوښتنه کيداي شي چي بيا ستا د حاکميت ادعا څه معنا لري او په دغه غونډه کي ستا ګډون په کوم بنسټ ولاړ دي . په غونډه کي ښايي هماغه چا برخه اخيستي واي چي د هيواد په ستره برخه کنترول لري په هماغو سيمو کي کرل کيږي. طبعي خبره ده چي پدي اړه خبري او پريکړه ښايي له هغه اړخ سره وشي چي په ستره برخه کنترول لري او ځرنګه چي دده په وينا بزګران په هماغو سيمو کي کوکنار کري ځکه خو ښايي د ملګرو ملتونو مالي مرسته هم د هماغه سيمي له بزګرانو سره وشي چي په متبادل کښت لاس پوري او ګټه تر لاسه کړي، له همدي ځايه ده چي د رباني صاحب او په اصطلاح دده اسلامي دولت!!! دغه غوښتنه بيځايه ګڼل کيږي .

د تاجکستان جمهور رئيس امام علي رحمانوف بيا غوښتي چي ملګري ملتونه دي د طالبانو د کنترول له سيمو بوغښتلي امنيتي کمر بند راتاو کړي چي دوستم ، خليلي او مسعود د هيواد په څو شمالي ولايتونو کي په خلاص مټ د چور تالان او جبر او استبداد لوبه په ډاډه زړه قايبل ته ورسوي او عملاً خداي مکړه هيواد په دوو برخو ووېشل شي.

له همدي ځايه ده چي په غونډه کي د ښاغلي رباني موقف ډېر ټيټ او وينا يي سړه وه دده د وينا په وخت د CNN په پرده برخوال زياتره پخپل منځي تبصرو او طنز بوخت ليدل کيدل .

د رباني صاحب حافظه که بيخي له منځـه نه وي تللي نو کمزوري او ګيډه وړه شوي ضروري ده چي په لوړ کنفرانس کي يي وينا ځرګنده بيلګه ده .

پتی پانی

شهرت ننګيال

کورنی فقه

پرله پسي ۳۷

کور او کورنی ژوند

قاضي محمد حسن "حقيار"

اسلام کور او کورني ژوند ته خاص اهتمام کوي او پدي هکله يي ډېر تاکيد کړيدي اسلام وايي چي د ژوند د بري راز او د ژوند خوندونه په کورني نظام کي نغښتي دي او هر څوك چي کورني ژوند نه لري نو مشکله ده چي په خپل ژوند کي خو شيبي هم خوري او ارامي وموني او دا حقيقت اوس ټولي دنيا منلي دي، هغه فيلسوفان او نوابغ هم دي حقيقت ته تسليم شويدي چي خپل عمر يي د کورني نظام په ضد مبارزي ته وقف کړي وو ، هغه فلمي اداکاري او د «نايت کلپونو» ستوري هم هڅه کوي چي خپل پاتي عمر د کورني نظام په چوکاټ کي تنظيم کړي چا به چي کـور، واده کـول او کـورني ژوند «عمري قيد باله» د داسي ډيرو مشـهورو فلمي او هنري څيرو مـرکي او د زړه خـوالي مي په مطبوعاتو کي لوستي دي چي د خپلي ځواني په موسم کي يي په مرکه کي کورني ژوند او واده کول عمري قيد او زندان بللي دي خو څو کاله وروسته يي چي لږ عمر پوخ شويدي او هغه د چا خبره عقل يي سرته ورغلي او د ښو او بدو د تميز قوه په کي پيدا شويده نو بيايي په خپلي ناپوهي خپله خندلي دي ، په خپل تير او يي ځايه ضايع شوي عمر باندي يي پښيماني ښکاره کړيده او اعتراف يي کړيدي چي سکون، اطمينان او د ژوند ټول خوانږه په کورني ژوند کي پرانه دي په امريکايي او اروپايي ټولنو کي ډيري داسي ښځي شته چي خپله ځواني يي د هوټلونو په اطاقونو کي تيره کړي وي خو ددي لپاره چي دسکون، اطمينان او ارامتيا نه يي برخي وي نو اخر يي يا کورني ژوند ته مخه کړيده او واده يي کړي دي او يايي ځان وژلي دي.

کـور د انسان لپاره داسي محفوظ ځاي دي چي د دنيا د ستړتياو، نا اراميو او نا خوالو نه انسان ته په خپله پسته غيږه کي پنا ورکوي، د ژوند د سفر ستړي او د نا ارامه ارواو خاوندان دلته د ارام ساه اخلي، دلته د ټولني د زندان ټول قيودات له منځه تللي دي او انسان ځان خپلواکه او د خپل اختيار خاوند بولي، په کور کې د انسان جسم ارامتيا او د انسان ارواو اطمينان او سکون موسې همدا لامل دي چې د اسلام مبارك دين پـه کورني ژوند باندي ټينګار کوي او دا يي د سکون او اطمينان يوازيني اده بللي ده .

الله «ج» فرمايي : والله جعل لكم من بيوتكم سكناً ...» النحل - ۸۰ - يعني « او الله «ج» پيدا کړيدي تاسي ته له کورونو ستاسو نه ځاي د سکون او اطمينان »

رسول الله «ص» به هم پراخه او لوي کور خوښاوه او دايي نيکمرغي او سعادت باله فرمايي : « اربع من السعادة المرءة الصالحة » ابن حبان يعني : « څلور شيان د نيکمرغي لامل دي : نيکه ميرمن، پراخ کور، ښه ګاونډي او تکړه سپرلي» .

کـور د انسان لپاره په لومړنيو اړتياوو کي شميرل کيږي او رسـول الله «ص» به هم دا خوښول چي ټول صحابه خپل کور ولري او د ژوند لومړني اړتيا وي يي چي په لاندېني حديث کي يي په ترتيب سره ياوړي پوره وي. فرمايي : «من ولي لنا عملاً و لم تكن له زوجة فليتخذ زوجة...» کنزل العمال جلد ٦ . يعني « څوك چي زموني د حکومت په يو مقام باندي ټاکل شوي وي او ښځه ونلري نو واده دي وکړي ؛ که خادم نلري نو خادم دي ونيسي : کـه کـور ونلري نو کـور دي واخلي او که سپرلي نلري نو سپرلي دي واخلي او کـه لـه دي نـه هم پټبي اوږدوي نو هغه يا خاين دي او يا غل دي »

د خپلو عيبونو د پيژندلو طريقه

الله«ج» چي کله د يو بنده سره د خير اوښکي اراده وکړي نو د هغه ښه بنده او عيبونه ورته ځرګندوي.

او کله چي انسان د خپلو عيبونو نه خبر شي نو بيايي علاج هم اسان کار دي نو په همدي وجه ځني خلك خپل عيبونه او نواقص نه پيژني يا ځني کسان خپلو وړو تيروتنو ته ډېر پام کوي ولي د ځان لوي عيبونه او سهوي نه شي تشخيص کنولاي او يايي له پامه غورځوي.

نو څوك چي غواړي خپل عيبونه اصلاح کـړي نو بايد لاندي څلور بنسټيز دودونه (طريقي) په عمل کښي پلي کړي .

۱- د يو کامل پيراو مرشد سره ناسته پاڅه لرل چي هغه ته خپل عيبونه او د هغو علاج ووښي.

۲- يو ديندار ريښتيني او د بصيرت خاوند خپل دوست او ملګري کړي او د هغه نه دي وغواړي چي ده ته دي د ده عيبونه ور په ګوته کړي.

حضرت عمر «رض» وايي الله دي په هغه چا رحم وکړي چي موني ته زموني عيبونه را په ګوته کړي .

يوه ورځ حضرت عمر «رض» حضرت سلمان «رض» ته وويل چي ماته زما عيبونه راوښايه هغه ورته وويل چي اوريدلي مي دي چي تاسي په د سترخوان باندي دوه رنګه خوراك خوري او بله دا چي تاسي د شپي او ورځي لپاره جدا جدا جامي لري حضرت عمره«رض» وويل چي سر بيره په دي دي نور څه اوريدلي دي هغه وويل چي نور څه مي ندي اوريدلي نو حضرت عمره«رض» ځواب وکړي به راتلونکي کښي به دا هم واته ووي.

دغه رنګ حضرت عمره«رض» يو ځل د حضرت حذيفه «رض» سره يو ځاي شو او حذيفه «رض» ته يي وويل چي ايا د منافقانو لست کښي زما نوم نشته دی؛ نو حضرت عمر «رض» چي په اسلام کي د دومره لوړ مقام خاوند وو.

د خپل آخرت او اصلاح په باب ورسره دومره غم ؤ

حضرت حذيفه «رض» يواځني جلال القدره صحابي وو چي رسول الله «ص» ورته د مديني د ټولو منافقينو نومونه ورښودلي . او له دي نه دا هم معلومه شوه چي څومره څوك د لوړي چوکي خاوند وي بايد په هماغه اندازه خپل ځان ملامته کړي .

خو په تأسف سره بايد ووايو چي نن زما نه کښي داسي دوستان ډېر کم دي چې ... هغوي دي مداهنت ... صحيح ښودنه دي وکړي.

پخوانو علماو او نيکو خلکو به هغه ... دوستان خوښول چې هغوي ته به يې ...

هغوي عيبونه ورښودل مګر نن ورځ خلك داسي خلکو ته په بده سترګه ګوري چي يل ته د هغه عيبونه ور په ګوته کړي .

نو ددي داسي مثال دي لکه موني ته چي څوك ووايي چي په جامو کښي دي لړم دي نو موني فوراً د لړم په لېري کولو اقدام وکړو او د ښوونکي نه خوشحالېږو دغسي بد اخلاق او بد خويونه هم د لړم نه کم نه دي بلکه ډېر بد دي نو بايد موني د هغه چانه چي موني ته زموني عيبونه را په ګوته کوي خوښ شو .

۳- خپل عيبونه بايد د خپل دښمن د خـولي نه هم واوريدل شي ځکه چي دښمن د هميشه لپاره ستا په عيبونو باندي نظر لري.

همدا وجه ده چي ډېر ځله د ځان په اصلاح کښي له دښمن نه هم استفاده کيداي شي مګر د يو مداهن دولت نه نشي کيداي .

۴- په ټوله کښي د خلکو سره يو ځاي بايد ژوند وشي او ځه چي خلك يې په نورو کې له خوښوي دي هم بايد ...

سیر تحول خانقاه و پیدایش آن

۱٦

تتبع و نگارش از مهر الله دردمند

در دوران رژیم الحادي (نجیب) در چوکات اداره نام نهاد «وزارت شؤون اسلامي و اوقاف» آمریتي را بنام « اداره خانقاه ها» مسمي نمودند و در رأس آن مرجع یکي از نظامیاني توظیف گردیده بود که عضویت حزب بر سر اقتدار دولت وقت را داشت. شاهدان عیني که موصوف را از نزدیك دیده بودند اظهار مینمایند که : از ظاهر چهره و حرکات آن بخوبي هویدا بود که باید دایم الخمر باشد، زیرا کبودي زیر چشمانش طرز تکلم و اداي الفاظ و سکنات آن حکایت گر میخواره گي موصوف را مینمود. اعمال شان چنان بود. قضاوت را براي خواننده محترم میگذاریم، وقتیکه یك شرابخواره بي خبر از احکام شریعت مقدس در رأس امور و اداره خانقاه ها قرار داشته باشد و خانقاه هائیکه در آن وقت فعالیت مینمودند و از طرف اداره متذکره ثبت و راجستر گردیده بود، پس مسند نشینان آن چگونه اشخاصي باید باشند. واضح و روشن است که براي گمراهي، اغوا و فریب عوام الناس بخاطر بدنام ساختن تصوف و عرفان اسلامي و بالاخره براي آنکه بتواند روحیه آزادیخواهي و جهاد طلبي را در وجود مومنین این دیار تضعیف نمایند، مراکز فوق تاسیس گردیده بود.

البته منظور نظر درین جا همان خانقا هایست که در ان وقت در ساحه تحت حاکمیت رژیم پوشالي که ارتباط مستقیم در جهت گمراهي عوام از جاده حق و حقیقت بطرف بي راهي داشتند. و از طرف اداره نام نهاد فوق (اداره خانقاه ها) برایشان هدایت و دستور صادر میگردید. درین جا توجه مزید شما عزیزان گرامي را به جریان سرگذشت یکي از دوستان بنده که شخصیت فرهنگي و مورد اعتماد اند و همچنان در تحریر مطالب این سلسله از همکاري بي شایبه خویش دریغ نورزیده اند، چشم دید خویشرا از اداره نام نهاد شؤون اسلامي و اوقاف آنزمان چنین بیان داشته اند.

« در سال ۱۳۷۰ یکسال قبل از ورود مجاهدین و تنظیم هاي جهادي به شهر کابل، روزي یکي از دوستان در باره مشکلي که در مورد حضیره آبایي اش که توسط یکي از مسئولین زیارت... غصب شده بود، خواهان مشوره و همکاري گردید. هر دو با اشتراك هم جهت حل قضیه به سراغ شعبات ذیربط اداره اوقاف وقت غرض ترتیب اثر دادن عریضه اش رفتیم. در جریان جستجو در یکي از شعبات نظرم به یکي از هموطنان اهل هنود «سردار سنگهـ» افتید که در دفتر مجلل و در پشت میز کار قرار داشت، در حیرت فرورفتم که در اداره امور «شوون اسلامي» موجودیت شعبه درمسال ها براي چي ؟ و بخاطر چه هدف ایجاد شده است !.

از آنجا گذشته دروازه شعبه دیگر را بدون آنکه دق الباب نمایم، باز نمودیم، ناگهان متوجه شدم که چند نفر بدور میزي گرد هم آمده مصروف نوشیدن مشروب الکولي (ودکا) بودند. با دیدن چنین صحنه و در چنین جاي که گویا «اماکن مقدسه» اش مي نامیدند در تعجب فرو رفته بعد از لحظه درنگ و تأمل، به سرعت باز گردیدیم . آنها در مقابل بجاي اینکه حیا و شرم نمایند، تعارف به نوشیدن شراب نموده و دوست همراهم با زیرکي و چالاکي خاص پاسخ شانرا چنین گفت : تشکرا ما در اتاق دیگر نوشیدیم، از آنجا چون سیماب از آتش بیرون جسته فرار را بر قرار از دار اماکن مقدسه ؟!! ترجیع دادیم»

این بود نمونه بي از فعالیت دستگاه عوام فریبي و تزویر که از آئین مقدس و نجات بخش اسلام ، شریعت و طریقت را که عین یکدیگر و در حقیقت از هم جدا نمي باشد، جهت استفاده نیات و پلان شوم خویش مکارانه استفاده نموده و مراکز چند را بخاطر نیرنگ و استفاده جوي را جهت ادامه قدرت چند روزه خویش ایجاد نمودند.

شیوه هاي گمراهي را بخاطر اغفال و شکار هر چه بیشتر هموطنان عقیده مند طبقه عوام که اکثراً از سواد بي بهره و از احکام شریعت و اسرار معرفت بي خبرند بنام هاي مختلف از جمله «طریقت ناجیه»؟! و غیره که هیچ پیوندي به روش و اصول پذیرفته شده سلوك و طریقت محمدي«ص» ندارد، درست در همین وقت تهداب کج آن گذاشته شد.

مپندار سعدي که راه صفا
توان رفت جز در پي مصطفي «ع»

سر انجام توبه فرمایان که خود توبه کمتر مي کنند و با هم علم طیبه طریقت و سلوك را وسیله شهرت خویش قرار داده اند، از این مکر و نیرنگ خویش که عده بي را بدام افگنده اند شرم و حیا را یکسو قرار داده و از فعالیت ریایي خویش دست بردار نمیباشند، زود است که ان شاء الله به شرمساري و ذلت کشیده شده و طشت رسوایي آنان از بام خواهد افتید. چهره هاي اصلي این پیران فرمایشي و تقلبي که تا هنوز هم خود را تحت عناوین و القاب گوناگون جا زده اند به ملت مومن این دیار و مردان حق که بدون شك متصوفین کرام اند، افشا و هویدا خواهد شد.

اشخاص ساده لوح و عوام را میتوان به آساني فریب داد، مگر از عقوبت سخت اخروي باید حذر نمود، زیرا خداوند با عظمت و بلند مرتبه بر همه احوال مخلوقات خویش ناظر و آگاه بوده یعني ذات عالم الغیب و شهادة را نمیتوان فریفت .

تصوف و عرفان

"بیدل" کسي به عرش حـــقیقت نمي رسد
تا خاك پاي احمد مرســـل نمي شود

د تصوف د جوړښت بنسټیز عناصر

اقتباس له قلبي مینې کتاب څخه

د توسل او تعبد په منځ کښې فرق ظاهر دي. توسل هم تر هغه ځایه مشروع دي چې د شریعت له لوري مجاز وي حضرت شیخ انصاري «رح» د (صد میدان) په کتاب کښې وایي چې ددي زرو مقاماتو څخه هر یو د سالك د منزل او میندونکي ته مقام دي. دي وایي چې د دي زرو مقاماتو اهل د سترگو په یوه رپ کښې ددغو شپږو شیانو څخه چاره نلري:

۱- د امر تعظیم. ۲- د مکر څخه ویره ۳- د عذر لزوم ٤- سنت ته خدمت . ۵- د دوستي ژوند٦- پر خلکو شفقت .

دي فرمایي ، شریعت ټول حقیقت، او حقیقت ټول شریعت، او حقیقت په شریعت بنا ، دي. شریعت د حقیقت پرته بیکار، او حقیقت بي شریعته بیکار دي او د دي دوو (یعني شریعت او حقیقت) څخه په غیر، عاملین بیکاره دي. طریقت د خپلو ټولو محتویاتو سره ددي ملحوظ لپاره چې صوفي او سالك د هغو پاکو ځلو چه د خداي«ج» د رحمت او جلال د انوارو د پلوشو د نژدي والي لپاره لري مقامات یو په بل پسي طي کړي متصوفینو او د طریقت شیخانو«رح» ددي باوجود چې د مقاماتو د شمیر په برخه کښې اختلافات لري مگر اصولاً هدف او معنایتو په لویه دایره کښې سره متحد کښېږي مثلاً که یو شیخ د مقاماتو شمیر (زر) بل (سل) او یا بل (اوه) یا تر نغه زیات یا لږ بللي وي، په حقیقت کښې ټولو پخپلو توجهاتو سره څو مقامونه یا مرحلې چې د (بحر) یا (میدان) په نومو هم یاده شوي دي سره یو ځاي کړي او تر یوه نامه لاندي بي راوستي وي. سالك د طریقت د سلوك په دوران کښې باید ټول مراحل طي کړي که څه هم د څو متعددو، اوصافو په نومو یاد شوي وي مثلاً حضرت خواجه عبدالله انصاري «رح» د (صد میدان) په کتاب کښې څرنگه چې د نامه څخه بي څرگندېږي ، د سلو مقاماتو یادونه او پیژندنه کوي. حضرت خواجه احمد غزالي «رح» د مشهور امام محمد غزالي «رح» ورور (بحر الحقیقت) په نامه تصوفي کتاب تصنیف کړي دي. په هغه کتاب کښې بي د طریقت د (اوو) بحرو د (مقاماتو) څخه بحث کړي دي چي صوفي او سالك د هغو څخه باید تیر شي. حضرت غزالي «رح» د دي اوو بحرونو، د تیریدو څخه ، هغي نتیجي هیله لري کوم چي .، حضرت خواجه عبدالله انصاري «رح» بي د سلو میدانو، او یا نور بي د زیاتو یا لږ مقاماتو د طي کولو څخه لري .

د افغانستان نامتو متصوفین

جناب نورالمشایخ حضرت فضل عمر مجددی "رح"

جناب نور المشایخ صاحب ډېره کمه موده د عدل وزیر هم ؤ چه دا دنده بي ډېره په امانتداري او پاکي سره اجرا کړي خو د ده مزاج او روحاني مصروفیتونو دي دي ته وهڅاوه چي دا وظیفه پریږدي. وایي په یوه موضوع کي جناب نور المشایخ «رح» خپل زوي ضیاء المشایخ صاحب محمد ابراهیم مجددي (شیر پاچا) صدراعظم محمد هاشم خان ته د یوه حق سپارش په مورد کي وروليږه او صدراعظم داسي ورته ووېل : پلار ته مي دي ووېل چه د عدل وزارت مه پرېږده، ده عدلیه وزارت پرېښود اوس چه موضوع ورانيږي سپارش کوي نو موږ څه وکړو ؟)

دا خبره د یادولو وړ ده چه کله د وخت حکومت د پاکستان او افغانستان د یو ځاي کېدو خبره وته متله نو بیابي د روسانو او نورو بیدینو کړیو په تحریك د پښتونستان موضوع را منځ ته کړه چه په دي باب د جناب نور المشایخ او ورسره علماؤ دریځ څرگند ؤ همدا خبره وه چه حکومت ورسره مخالفت پیل کړ او ددي فکر علماء بي تر تعقیب لاندي ونیول د هغه په ځاي بي نور روحانیون او علما پیدا کړل چه د دوي د فکر خلك وو او هغوي اسلامي سیاسي ژوروالي ته درلود چه بالاخره حالات داسي شول چه نتیجه بي د ثور بد مرغه کمونستي کودتا وه .

لنډه دا چي د جناب نورالمشایخ صاحب شخصیت د لمر غوندي روښانه ؤ علمي روحاني او جهـــادي پلوشي بي په هره خــوا خـــپري شوي او تیاره کونجونه بي ځلولي دي.

په دي تر څ کي ښایي دا هم څرگنده کـړو چه ده مـشـر وروړ جناب شمس المشایخ چه نوم بي حضرت فضل محمد مجددي ؤ یو علمي، روحاني او جهادي شخصیت ؤ چه د افغانستان د استقلال په برخه کي بي لویه برخه درلوده او د ټل په محاذ کي بي د انگریزانو په ضد پوره کار روایي کړي ده او همدا دلیل ؤ چه دي په امان الله خان ډېر گران ؤ اعزازي القاب بي ورکـــړي و همـــده او جناب نورالمشایخ صاحب ته بي د الغو بي زمکي چي دولتي زمکي وي د دوي د اعزاز په توگه ورکړي دي. د یاد وړ ده کله چه جناب شمس المشایخ د افغانستان په استقلال کي خپله ونډه پوره کړه نو د ۳٤۳ کلونو په عـمـر دا لوي جناب ؛ عالي شخصیت وفات شو. انا لله و انا الیه راجعون .

پیوند شریعت با طریقت رسیدن به معرفت

قسمت دوم - روستایي

در شـماره گذشته این سلسله در مورد فضیلت نماز، اسرار کلمه طیبه و تفصیل حضرات شیخین (حضرت ابوبکر صدیق و عمر خطاب «رض») از دفتر مکتوبات شریف حضرت امام رباني(مجدد الف ثاني) «رح» که به منزله اصول اساسي و دروازه تصرف و عرفان اسلامي نزد علماي حقاني عالم اسلام، تلقي و پذیرفته شده است. نکات چند را معطوف داشتیم. درین جا باز هم توجه مزید شما عزیزان را به خوانش بعضي از مکاتیب حضرت امام «رح» در مورد فضیلت مذهب امام اعظم ابو حنیفه نعمان بن ثابت «رح» و عقل کلي کم فلاسفه بدان معتقد میباشند، از دفتر مکتوبات شریف که توسط عالم جید روحاني عصر اخیر مرحوم مولوي نصر الله«هوتکي» برادر بزرگ شیخ الحدیث مرحوم مولوي سلطان جان خطیب و امام مسجد جامع جناب حضرت نور المشایخ «رح» شرح گردیده است معطوف میداریم .

حضرت امام رباني مجدد الف ثاني «رح» در فروعات احکام فقهي پیرو امام اعظم ابو حنیفه نعمان «رح» بوده، چنانچه اظهار می نمایند. (حضرت ابو حنیفه«رح» در تقلید سنت از همه پیش قدم است و احادیث مرسل را در رنگ احادیث مسند شایان متابعت میداند و براي خود مقدم میدارد، و هم قول صحابي را بواسطه شرف صحبت خیر البشر علیه الصلات و التسلیمات براي خود مقدم میدارد و دیگران نه چنین اند. نورانیت این مذهب حنفي به نظر کشفي دریاي عظیم مینماید ، سایر مذاهب در رنگ حیاض(حوض ها) و جداول به نظر میدرائید و بظاهر هم که ملاحظه نموده مي آید سواد اعظم(تعداد اکثریت) از اهل اسلام متابعان ابي حنیفه علیهم الرضوان اند این مذهب با وجود کثرت متابعان در اصول و فروع از سایر مذاهب متمیز است و در استنباط طریق علیحده دارد. هم چنان در تفصیل امام اعظم ابو حنیفه نعمان بن ثابت که بنیان گذار مذهب حنفي اند چنین فرموده اند : (باني فقه ابو حنیفه است سه حصه فقه او را مسلم داشته اند و در ربع باقي همه (دیگر مذاهب سه گانه) شرکت دارند، با وجود الزام این مذهب مرا با امام شافعي «رح» گویا محبت ذاتي است، لهذا در بعضي اعمال نافله تقلید مذهب او مینمایم. اما چه کنم که دیگران را با وجود وفور علم و کمال تقوي در جنب امام ابي حنیفه در رنگ طفلان مي یابم .) « مکتوب ۵۵ دفتر دوم مکتوبات شریف »

حضرت امام «عقل کلي » را که فلاسفه به آن معتقد اند آنرا بي اساس خلاف کتاب الله «ج» و سنت رسول الله «ص» میداند، و در مکتوبي چنین اشاره مي نماید (عقل فعال چه بود (باشد) که سر انجام اشیا نماید و حوادث به او مستند باشد در نفس وجود او هزاران سخن است، جمعي این سفیها را «حکما» مي نامند و بحکمت منسوب میدانند. اکثر احکام شان مخصوصاً در الهیات کاذبه اند مخالف کتاب و سنت «دفتر سوم مکتوب ۲۳ »

در همین جا علاوه نموده اند که :(بیدولتان افلاسي و متابعان شان از اهل اسلام) چنانکه خداوند را عالم به جزئیات ندانند و آنرا به عقل ناقص خود کمال مي انگارند چنانچه از کمال بي خردي زیاده از یك چیز را از واجب الوجود «ج» صادر ندانند عجب جاهلانند که جهل را کمال تصور نمایند و از جهلي که دارند اشیا را مستند به غیر او دانند عقل فعال از نزد خود تراشیده محدثات را به او منسوب دارند و خالق سموات و ارضین را بیکار دانند ، هیچ طایفه نزد این فرقه سفیه تر (نادان تر) از این طایفه در عالم بوجود نیامده. در مکتوب ۲۷۹ دفتر اول مکتوبات شریف مي نویسد :

(فلاسفه یونان با وجود زیرکیها بوجود صانع معتقد نگشته وجود کائنات را بدهر منتسب ساختند. چون روز بروز انوار دولت انبیا ساطع گشت متاخران فلاسفه به برکت آن انوار رد مذهب قدماي خود نموده بوجود صانع قایل گشتند و اثبات وحدت الوجود نمودند) .

کلمات قدسیه در طریقه عالیه نقشبندیه شریف

محمد عبدالعزیز «مهجور» -قسمت سوم

۲- سفر در وطن :

سفر عبارت از سیر و انتقال از یك محل و به محل دیگر است که در ان اراده اقامت دایمي چون وطن نباشد. اما سفر در وطن در طریقه نقشبندیان جدا از آنست که گفتیم. بسیاري از پیروان این طریقت چنین مي پندارند که مراد از سفر در وطن آنست تا سالك روان باطن خویشرا از صفات خبیثه مصفا سازد و به جاي آن صفات ملکیه و فاضله (محموده) را جاگزین نماید. به عباره دیگر اخلاق مذموم نفساني خود را به اخلاق محمود انساني مبدل نماید.

حضرت خواجه محمد پارسا«رح» در کتاب تحقیقات خویش درینمورد مي نویسد : « سفر در وطن یعني آدمي باید که در طبیعت بشر باشد، از صفات بشري به صفات ملکي و از صفات مذمومه به صفات مرضیه حمیده انتقال فرماید » به نظر این بزرگوار شخص خبیث به هر جا که انتقال کند ، خباثت وي زایل نگردد.

فاضل محترم سعد الله مولف رساله تحفه القیوم از شیخ عبدالحکیم کاکري «رح» نقل قول مینماید که به نظر ایشان سفر در وطن بمعني سیر انفسي میباشد یعني به وجود آمدن تحولات دروني و تفکر در آثار قدرت باریتعالي «ج» در وجود خویش. ابراز نظر شیخ نور محمد قندهاري «رح» نیز که در کتاب رفیق السالك به لسان عربي درین مورد درج گردیده با تحلیل خواجه محمد پارسا«رح» در زمینه یکسان است .

ابو المعاني میرزا عبدالقادر بیدل «رح» که خود دستورات طریقه مبارکه نقشبندیه را پسندیده است بزبان شعر سفر در وطن را سیر انفسي میداند و مثال هاي متعددي را میتوان در مورد سراغ کرد. به گونه مثال حضرت شان میفرمایند :

هر طرف گلو کردیم هم بخود سفر کردیم
اي محیط حیراني این چه بیکراني هست

درین بیت جمله « هر طرف گلو کردیم» مفهوم سیر آفاقي و «هم بخود سفر کردیم» سیر انفسي مراد بوده است .

باید دانست که سیر عارف در پرتو انوار شریعت و اسرار طریقت به آفاقي و انفسي تفکیك میشود و هم چنان سیر من الله، سیر الي الله و سیر في الله که هر کدام مراحل جداگانه و تعریف بخصوصي دارد براي عارف سالك در خور توجه و اهمیت است که مورد بحث ما درین مبحث نیست .

به نظر این اضعف العباد مفهوم سفر در وطن تنها انصراف از صفات بشري خبیثه و انتقال به صفات فاضله حمیده نبوده بلکه سیر و سفر سالك در لطایف است .

لطایف خمسه (پنجگانه) که عبارتند از قلب، روح، سیر، خفي و اخفا، هر یك در جسم سالك در محل مشخصي یعني در قسمت تحت هر دو پستان و قسمت سینه قرار دارد و از یك لطیفه باید به لطیفه دیگر سفر کرد و قاعدتاً سفر تحت سفر است. سیر عارف وقتي از یك لطیفه به لطیفه دیگر متوجه شد یعني مراحل آنرا بعد از استعداد باطني و توجه مرشد کامل طي نمود، میتواند که مجاهده و ریاضت بسیار را متحمل گردد ، بالطایف‌وزیم‌بحثگي‌رسد

براي حسن اختتام این مبحث بیتي از حضرت بیدل را یاد آور مي شویم :

هر چه خواهي همه در خانه خود مي یابي
همچو آینه اگر حلقه زني بر در خویش

* * * * * * * * * * *

حکم اعــــدام بالاي دو تن قاتل در شهر هـــرات تطــــبيق گـــــرديد

دو تن قاتل و جاني مسلح که چندي قبل دو تن از طلبا کرام را به شهادت رسانيده بودند اخيراً در محضر عام در شهر هرات به دار آويخته شدند.

اژانس اطلاعاتي باختر از شهر هرات گزارش ميدهد صاحب خان فرزند عبدالصمد و نصير احمد فرزند پيدا احمد مسکونه ولايت هرات که جهت تخريبات بقتل و دهشت افگني از جانب ايران توظيف شده بودند توسط موظفين بيدار امنيتي ولايت هرات دستگير شده که بعد از طي مراحل دوسيه تسبتي شان و اصدار حکم قضايي امارت اسلامي افغانستان به سزاي عمل شوم و غيراسلامي شان رسيده در محضر هزاران تن از شهريان متدين هراتي در ستديوم ورزشي شهر هرات به دار آويخته شدند.

از قاتلين و جانيان متذکره که چندي قبل دو تن از طلباً کرام را به شهادت رسانيده بودند يك قطعه چك چند مليون ريالي ايراني که بطور خاص از طرف استخبارات ايران صادر و ترتيب ميگردد نيز بدست امده است.

قاتلين و جانيان بعد از دستگيري شان توسط موظفين امنيتي به جرم خويش بدون جبر و اکراه اعتراف نموده گفتند که علاوه بر شهادت دو تن از طلبا کرام اموال و اجناس مردم را سرقت نموده وظيفه داشتند تا به آزار و اذيت مردم پرداخته و مرتکب چندين جنايات ديگر نيز شناخته شده اند.

در اجتماع عظيم از شهريان متدين هراتي که در ستديوم ورزشي هرات به همين مناسبت تدوير يافته بود محترم ملا برادر اخند والي هرات محترم ملا عبدالمنان نيازي والي کابل محترم الحاج ملا عبدالسلام قوماندان قول اردوي هرات و تعدادي کثيري از علما مشران و جمع کثيري از مردم آن ولايت اشتراك نموده بودند.

در اين اجتماع محترم مولوي صديق الله رئيس محکمه نظامي هرات محترم مولوي نجيب الله حکيمي څارنوال و محترم گل محمد مسوول مبارزه با جرايم جنايي قوماندانی امنيه ولايت هرات پيرامون چگونگي تطبيق حدود شرعي بالاي قاتلين و مجرمين صحبت نموده در باره حقانيت قوانين الهي در برابر مرتکبين جنايي و تخطي از اصول اسلامي روشني انداختند.

خبرنگار اژانس اطلاعاتي باختر مي افزايد همزمان با تطبيق حدود شرعي بالاي قاتلين و مرتکبين منکرات در ولايت هرات مردم در امنيت و مصوونيت کامل بسر برده و در اين راه آماده هرگونه همکاري با امارت اسلامي افغانستان ميباشند.

زماني که قاتلين و جنايت کاران به دار آويخته ميشدند اهالي متدين و حقشناس ولايت هرات با نعره هاي الله اکبر از اقدامات امارت اسلامي افغانستان در اين رابطه پشتيباني قاطع شانرا ابراز ميداشتند.

بمنظور اتحاف ادعيه به روان پاك قربانيان زلزله اخــير تخار و بدخشان محافل ختم قرآن عظيم الشان داير گــرديد

بخاطر گرامیداشت از روان پاك قربانيان زلزله اخير در ولايات تخار و بدخشان محافل ختم هاي قران عظيم الشان از طرف هيأت رهبري و منسوبين برخي از ادارات در مرکز و ولايات کشور تدوير يافت.

آژانس اطلاعاتي باختر گزارش ميدهد: درين محافل پس از ختم قرآن عظيم الشان خاتمين با بلند نمودن دستهاي نياز به درگاه رب العزت براي قربانيان حادثه دردناك زلزله در ولايات تخار و بدخشان جنت فردوس و براي بازمانده گان آن صبر جميل و اجر جزيل از بارگاه خداوند متعال مسئلت نمودند.

همچنان خاتمين محافل متذکره ضمن تاکيد بر تقوا و پرهيزگاري هرچه بيشتر بار ديگر اماده گي خود را در دفاع از ارزشهاي نظام اسلامي ابراز نمودند.

اين محافل از طرف هيأت رهبري و کارمندان علماي کرام و اهالي متدين ولايت لوگر، افسران و پرسونل خدماتي قوماندانی مرکز تعليمي رياست عمومي استخبارات، کارکنان و منسوبين بانك انکشاف صادرات و هيأت رهبري و منسوبين رياست عمومي پاسپورت صورت گرفت.

ارتباط تيلفوني شهر کابل با ولسوالي چهار آسياب عنقريب تأمين خواهد شد

ارتباط تيلفوني بين مرکز و ولسوالي چهاراسياب عنقريب تأمين ميگردد.

يك منبع مربوط در زمينه به اژانس اطلاعاتي باختر گفت: طي بازديدي که اخيراً محترم محمد صديق احمدي رئيس مخابرات ولايت کابل از منطقه داشت کارکنان و مسوولين رياست مخابرات ولايت کابل اطمينان دادند که با کار و فعاليت متداوم در حصه تمديد لين هوايي ولسوالي چهارآسياب تلاش نموده و در آينده نزديك ارتباطات تيلفوني ولسوالي متذکره را با مرکز تامين نمايند.

د کانو او صنايعو وزارت خبرتيا

د خرخي پله د وړېو او بډلو فابريکه په دي وروستيو وختو کي فعاله او فعاليت ته چمتو شويده.

له دي امله ټولو ملي سوداگرو او هغو پلورونکو ته چي وړي يې بهر ته صادرولي خبر ورکول کيږي چي بهرته د وړي صادرول منع دي.

هغه کسان چي د وړېو د پلورني هيله ولري د کانو او صنايعو وزارت د وړېو او بډلو فابريکي رياست ته دي مراجعه وکړي.

سيلاب شديدي در منطقه ...

دو باره بدست آورده و به مالکين اصلي آن تسليم نموده اند.

از اثر اين سيلاب شديد شاهراه جلال اباد و تورخم براي مدت يك و نيم ساعت بروي ترافيك مسدود بوده که از اثر تلاش هاي عمليه نجات و منسوبين ولايت ننگرهار دو باره بروي ترافيك باز گرديده است.

د اطلاعاتو او کلتور ...

نذير احمدزي، محترم قاضي محمد حسن حقيار، محترم لاهو، محترم ... کوشا او ځيني نورو شاعرانو په کي خپل شعرونه ولوستل.

محفل د دعائي په لوستلو سره پاي ته ورسيده.

يو غل او جنايتکار ...

منګولو ته وسپارل شي.

له دي غله نه يو اسپانوي تومانچه او څلور لاسي بمونه هم تر لاسه شويدي.

په تېول شوي غله باندي په دغه جنايت بر سيره د يوه تن د وژلو په اتهام کي هم د لاس لرلو تور لګول شويدي.

د غله د قضيې په باب رسمي څيړني او تحقيقات دوام لري.

د لوبډي په اور کي يوه مور ...

او د ماشومانو په بستره پطرول شيندلي او بيا يې اور ورلګولي وو چي په نتيجه کي هغه او د هغي څلور معصوم ماشومان چي لس اوه، پنځه او دري کلن و ... خوب ويده وو د اور په لمبو کي کباب شول که څه هم د اور په لګيدو سره د سيمي خلک مرستي ته ورسيدل خو اور دومره تېز و چي د خلکو هڅو هيڅ نتيجه ورنکړه او اور دغه وخت مړ شو چي مور او څلور ماشومان يې په سکروټو بدل شوي وو.

ددغي ښځي خپلوانو وايي دي چي د هغي عصبي توازن سم نه و او تر څکه يې ځان او خپل ماشومان وسوځول ددي پيښي بل غمجن اړخ دا وو چي د نور محمد تومي سړي اکا چي کله د خپل دراره کورني حال وليد د قلبي حملي له امله د پيښي په ځاى سکته وکړه او مړ شو د سيمي خلکو ويلي چي لوږي او تنګسټي دغه ښځه دي ته مجبوره کړي وه چي ځان او خپله کورني په ... غم نه خلاص کړي ... ساعته وړه چي ځان او خپلو ماشومانو ته يې اور ولګاوه.

د ۲۹۹٦ پونده وزن لرونکي ...

ژوند ته څه مطلب چي انسان يې کي د خپلي خوښي خوراك څښاك او د خپلي خوښي سره سم خوب او ارام و نه کړي.

بستر سايمکس يوازي په ... ناشته کي دوه نيم کيلو د خپلي خوښي سره سمه غوښه روسي، جوس، کوچ کيلي او ... خوري او هره ورځ پنځه ويشت دانې هګۍ خوري. د بستر سايمکس نيکمرغي دا ده چي پلار يې تر ټولو شتمن سړي وو او په کال ۱۹۷٦ دده د پلار له مړيني وروسته يې ټوله شتمني ده ته پاتي شويده بستر سايمکس وايي چي دده ښکلي نجوني ډيري خو ښيږي خو هيڅکله هم کلب ته نه دي ورتلي ځکه چي دي د کلب په دروازه کي نه ځاييږي.

د بالا حصار د ابو رسولو ...

کور برابرولو د ساختماني دستګاه د انجنيرانو په همکاري فعاله او د استفادي وړ وګرځيده.

د اوبو رسولو ددغه ... پر وژو او د عام المنفعه تاسيساتو په بيا احيا کولو او جوړېدو سره خلکو ته زياتي اسانتياوي برابرېږي.

قوماندانان يك موضع مهم ...

صفوف اردوي اسلامي مي پيوندند.

دور نيست که طلبه هاي کرام و مجاهدين اردوي اسلامي به همکاري نزديك مردم محل تماماً ساحات و مناطق متذکره را از وجود دشمنان اسلام پاکسازي نموده با اعاده صلح و امنيت شريعت اسلام را در آنجا تنفيذ نمايند.

يکمقدار سلاح و مهمات از ...

مشري، ۲۳ بکس مرمي زيکويك و هشت فير مرمي ميزائيل، ده فير مرمي ون تو تو و ده عدد بم دستي ميباشد که اخيراً از نزد قوماندان عبدالولي يکتن از قوماندانان رژيم گذشته از مربوطات قلعه کرنيل ولسوالي خوشي ولايت لوگر توسط موظفين قوماندانی امنيه آن ولايت کشف و بدست آمد.

د صکوکو مطبعه بيا ...

صکوکو د مطبعي د بيا احيا کولو په لاره کي د کار کوونکو د پر له پسي او هر اړخيزو هلو ځلو درناوي وکړ او خلکو ته د ارزښتناکو خدمتونو د تر سره کولو په کار کي يې د کار کوونکو رانلونکي مسوليتونه جوت کړل.

په دي غونډه کي چي د ماليي وزارت پر شمير رئيسانو او چاړواکو او د کابل ولايت مستوفي محترم مولوي خالقداد ګډون کړی و په هيواد کي د دايمي سولي د تامين او د افغانستان د ترقي او پرمختيا په باب د دعايي په لوستلو سره پايته ورسيده.

يك افسر هندي از ترس ...

مورد تهديد شديد عصبي قرار داشت دگرمن موصوف روز سه شنبه دست به خود کشي زده است.

مدرسه احياً العلوم ولسوالي ...

مردم ولسوالي غوربند در مورد اهميت همچومدارس و اقدامات امارت اسلامي افغانستان در راه تعليم و تربيه سالم جوانان و نو جوانان کشور بحث همه جانبه نمودند.

خبر مي افزايد که مدرسه متذکره بشکل نهاري و ليليه اعمار گرديده گنجايش دو صد نفر را بشکل نهاري و يکصد نفر را بقسم ليليه دارا ميباشد.

دو صد و پنجاه نوع گندم ...

هاي مختلف فارم مذکور ديدن نموده و غرض انتخاب تخم بهتر و ممتاز در جهت تکثير به دهاقين به مسوولين مربوط هدايات لازم داد.

ازمايش اقسام مختلف گندم در فارم با دام باغ، تاسيس کلينکهاي هاي حيواني در مربوطات وزارت زراعت وارد نمودن ادويه جات مختلف حيواني و نباتي غرض دفع افات از جمله اقدامات موثر و مفيدي است که اخيراً منسوبين وزارت زراعت جهت انجام خدمات بهتر و بيشتر به مالداران، باغداران و دهاقين کشور روي دست گرفته است.

يادونه

ښايي سشاسو ايمان په اجازه درنګړي چي دا ډول سپيڅلي پاڼي په ناوړو ځايونو کښي ونه غورځوي.

د ګڼون بيه له هيواد نه بهر		
ملك	شپږ	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخليج هيوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امريکا	US$75	US$150

د شريعت تبصره

ائتلاف شمال در بن بست !

ائتلاف شمال که با تشکلي از گروههاي پراگنده و نا همگون، کتله نا متجانسي را تشکيل داده است که فقط وابستگي به کشور هاي مشخص خارجي وجه تشابه آنهاست، تمويل از خارج منافع اقتصادي مشترکي را در ميان آنها بوجود آورده و بنا بر همين بنياد است که اين گروهها در ظاهر تلاش دارند از خود يك چهره هماهنگ، متحد و همگون به نمايش بگذارند چهره مضحکي که هيچگاه مردم افغانستان آنرا جدي تلقي نکرده اند.

بي اعتمادي نسبت به همديگر در ميان سردمداران اين ائتلاف مرضي مزمني است که تا اعماق استخوانها نفوذ کرده و جنگها و خونريزي هاي ذات البيني آنرا به بيماري غير قابل علاج مبدل ساخته است. بي اعتمادي ميان مسعود و دوستم، اختلاف ميان حزب وحدت و دوستم، بي اعتمادي و بدبيني ميان حزب وحدت و مسعود با سابقه، «کربلاي افشار» از نظر حزب وحدت، و حتي بي اعتمادي علني ميان مسعود و رباني، ائتلاف شمال را در بن بست و پاگيري قرار داده که اگر مداخله خارجي قطع گردد همزمان با آن اين به اصطلاح ائتلاف از هم خواهد پاشيد.

اختلاف ميان دوستم و مالك نشان داد که اين گروهها از داخل خود نيز درگير کشمکش بر سر قدرت اند. انشعاب در جنبش موجب تحولاتي در شمال گرديد و موضع حزب وحدت را در مزار شريف قويتر ساخت مسعود که مترصد فرصت بود تا رقيب خود دوستم را تضعيف نمايد با جلب مالك و هواداراني در صف خود سعي نمود تا موضع نظامي خود را درين منطقه تقويت نمايد و طرفداران مالك نيز چاره، کار را درين ديدند که پرچم هاي جمعيت و شوراي نظار را بر افرازند و خود را به آنها منسوب نمايند تا خود را از تعرض دوستم محافظت نمايند.

هر چند دوستم براي تخليه مزار از افراد مسلح حزب وحدت به اين گروه چنگ و دندان نشان داد ولي اکنون دوستم در منطقه يي که قبلاً شکارگاه اختصاصي وي تلقي مي شد با دو دشمن يعني حزب وحدت از يکطرف و جمعيت و شوراي نظار که طرفداران مالك نيز به آن پيوسته اند از طرف ديگر مواجه است. اين وضع دوستم را ناچار مي سازد تا قبل از درگير شدن با يکي از اين دو، با طرف ديگر به نوعي توافق دست يافته و به آن امتياز بدهد. اين کار با در نظر داشت شرايط شکننده، سياسي و نظامي در شمال بسيار دشوار است و اين بن بستي است که رهايي از آن براي دوستم به سادگي ميسر نخواهد بود. شايد تنها راه براي دوستم آن باشد تا با عمليات تهاجمي عليه نيرو هاي امارت اسلامي در مناطق هم مرز با فارياب سعي نمايد تا پيروزي نظامي بدست اورد و به اين ترتيب موقعيت متزلزل خود را تحکيم بخشد ولي در چند روز اخير چنين تلاشها براي وي ارمغاني جز شکست و تلفات سنگين نداشته است.

مشکل مسعود با حزب وحدت نيز به همين گونه است در مناطقي که نيرو هاي مسعود با حزب وحدت هم مرز اند مسعود ناچار است تا تحرك نظامي خود را محدود به عمليات دفاعي سازد زيرا اگر احياناً درين مناطق نيرو هاي وي از موضع دفاعي خارج گرديده و با تهاجم به اشغال منطقه يي هم موفق گردند حزب وحدت بزودي کنترول آن منطقه را از دست تفنگداران مسعود خارج خواهد ساخت. اين استراتيژي حزب وحدت در شمال که در مزارشريف ديده شد موجب گرديده که ديگر مسعود نفع خويش را در گرفتن موضع تهاجمي نه بيند و همينقدر که موفق به حفظ حالت موجود گردد برايش پيروزي بزرگي بشمار مي آيد.

مشکل ائتلاف شمال تنها اختلاف و بي اعتمادي ميان يك گروه با گروه ديگر نيست بلکه درين اواخر از بروز اختلافات داخلي در ميان هر يك از گروهها نيز خبر ميرسد که نشان ميدهد در آينده بايدشاهدحوادث جدي تربود.

همانگونه که اختلافات ميان دوستم و مالك موجب بروز انشعاب و دو دستگي در جنبش ملي شده ها شد درين اواخر خبر بروز اختلافات در ميان گروه شوراي نظار ميرسد که گويا جمعي از فرماندهان آن بفرمان مسعود کشته، دستگير و زنداني شده اند بنا بر گزارشهاي واصله، اين عده قصد داشته اند تا مسعود را از قدرت خلع و پنجشير را تحت کنترول خود در اورند.

موج نا رضايتي عليه مسعود در داخل شوراي نظار رو به افزايش است زيرا جنگي که مسعود از چندين سال بدينطرف به بهانه هاي مختلف براه انداخته جز بدنامي جهاد مردم افغانستان و کشته و مجروح و معلول شدن جوانان پنجشير ارمغاني براي مردم نداشته است در حاليکه همين جنگ براي مسعود و بعضي از اطرافيان وي ثروت سرشار بدون نموده که در بانکهاي کشور هاي خارجي ذخيره مي شود.

تلاش ديگر مسعود براي تسلط بر بدخشان و از ميان بر داشتن نيرو هاي وابسته به رباني در آن ولايت تا کنون به جنگ هاي شديد در انجا منجر گرديده است. نا رضايتي رباني از مسعود، وي را به پهلوانها در جنبش شمال نزديکتر ساخته است. اين نزديکي شايد موجب گردد که شخصيت استاد از تاثيرات خصوصيت هاي پهلواني بي بهره نماند بخصوص که استاد از قبل يك خصوصيت پهلواني را از خود بنصه، ظهور رسانيده است. و آن اينکه «پهلوان زنده خوش است»!!.

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Mawlavi Abdul Rahman Ahmad Hotaki.
Editor: Mula Asadullah Hanifi.
Peshawar .Tel # : 844331-818157-815627
Fax: 816088 Peshawar
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar
Printed by: Dawlati Printing Press